

Dr.Said Afghani



عرفان الله « بيدار»
د نشر نيټه : ۵ جون ۲۰۱۳ ميلادی

# ختيځ ادبي بهير خپله ۴۵ اونيزه ناسته ترسره کړه

ختيځ ادبي بهير ملګرو د ۱۳۹۲ کال د غبرګولي مياشتي په ۱۰ مه خپله ۴۵ مه غونده د جمعې په مبارکه ورځ د جلال اباد ښار د ميدوتيک په انګړ کي وکړه.

ناسته سهار نهه بجي بصير احمد تلاش د قران پاک د مبارکو اياتونو پر تلاوت پرانيستله. دا اونۍ د غونډې مشر استاد عبدالصبور وطنوال کوله د مېلمه پر څوکۍ عمران خزان ناست و او کوربتوب يې محمود خزان کولو.

د ويندويۍ چارې جمال ثاقب سره وې او کزارش عرفان الله بيدار ليکه. په سر کې بهيروالو د مومند خپروندیه ټولنې مشر نصيرمومند چې له تېرو څو مياشتو راهيسې د ناروغۍ په بيستر پورت دی د روغتيا په موخه د لوی ښتن دربار ته د دوعا لپاره لاسونه لپه کړل او نومورې ته يې دروغي ستې غوښتنه وکړه.

دکره کتني په برخه کې ضياالدين همت مل د ((ګنديرلالا نظام )) تر سرليک لاندي ازاد نظم کره کتي ته وړاندي کړ.

په نظم د خبرو پيل د ګران محمد ګران لخوا وشو، ګران نظم خوښ کړ خو ځني فروفي تيروتنو ته يي اشاره اړينه وبلله، هغه ويل سره د دې چې د نظم له ټولو خواوې ښکلی وې، خو ځينې فروفي تېروتني يې لرلي چې د نظم خوند يې خراب کړی و.

محمود خزان هم د همت مل د نظم ليکلو ستاينه وکړه، زياته يې کړه يو ځای کې راغلي دي ( دا لا څنګه پسرلی دی چې پردي دلته ګرځيږي)) که همدا نيم بيتی داسي شي، چې (( دا لا څنګه پسرلی دی چې پردي دلته ديره دي)) په باور يې نور به هم ښکلی شي.دخران دلاربنوني سره ډيری ګدونوال هم غږي ول.

ورپسي عرفان الله بيدار وويل د همت مل صيب ټول نظمونه ښکلی دي او دا نظم يي هم په ښکلو الفاظو پيل شوی دی. نومورې زياته کړه په نظم کي راغلی (( لوڅ لغړ ونو اغوستي شني جامي دملنګانو)) په دي بيت کي مفرد او جمعي ته پام نه دی شوی.

ګران محمد ګران بیاوویل چي که داسي راشي جوړ به شي (( لوڅو ونو هم اغوستي شني جامي دملنګانو)).

سمعیم الله ننګیال که څه د نورو ملګرو د نظر سره همغږی نه و خو ویل یي چي شاعر د نورو لپاره خپل احساسات نه شي قرباني کولي نوموړي د خپلو خبرو د لا پخلي لپاره د کوزې پښتونخوا د ښه شاعر رحمت شاه سایل یاد کړ چي ډېرى وخت یي ویلی دی چي د خپل خیال لپاره د قافیې او ردیف قرباني ورکوي.

رحت ګل سوکال په توله کي نظم دپیغام او رنګینو الفاظو له مخي خوښ کړ نوموړي وویل چي همت مل کمال کړي اوډیرو رنګینو الفاظو کي یي خلکو ته ښه پیغام وړاندي کړي .

سوکال دپروفی تیروتنو تر څنګ دي بیت ته هم اشاره وکړه ((دپاچا دزني لاندي )) په وینا یی که داسي شي چې (( دپاچا دړیری لاندي )) لا خوند په وکړي ، خو محمود خزان بیا وویل چي یاد بیت په خپل ځاي سم دی او دشاعر مطلب دادی چي دپاچا تر څنګ کسان هم په ویره ژوند کوی او ځنو یي دمرګ جام نوش کړی دی .

دکره کتني وروسته دشعر څښتن دریځ ته وبلل شو همت مل د منني تر څنګ د فروفی تیروتنو پړه دکمپیوټر کار په غاړه واچوله. ور پسي یوه ازاده مشاغره وشوه چي داستاد لال پاچاازمون په شمول لسګونه شاعرانو پکي خپل شعرونه واورول.

دمشاعري وروسته د ختیځ ادبي بهیر انتخابي مشر دریځ ته لاړو او بهیروالو نه یي غوښتنه وکړه چي دګزارش لیکونکي او ویاند وخت پوره شوی پکار ده، چي بدلون په کي راشي دبهیروالو دګډي پریکړي وروسته غرفان الله بیدار دبهیر ګوزارش لیکونکي او احمد جمال جمال دبهیر دراتلونکو ۶ میاشتو لپاره ویاند وټاکل شو.

وریپسي عمران خزان دخبرو وخت واخست نوموړي د ختیځ ادبي بهیر ناستي ډېرې زیاتي ارزښناکي یادې کړې په ځانګړي ډول د کرکتني برخه، نوموړي ټولو بهیروالو ته بلنه ورکړه چي په یو شمېر هغو ولسوالیو کي چي ادبي ناستي کیږي سفرونه وکړي او برخه په کي واخلي.

نوموړي وویل سره د دي چي په ځینو سیمو کي ادبي ناستي کیږي خو د ارزوني برخه یي ډېره کمزوري ده او یا په نشت حساب ده، په خبره یي که چېرته بهیروال په یادو ناستو کي برخه واخلي، نو ورسره به هلته د ډېرو شاعرانو شعرونه په ټول پوره شي او خپلو نیمګړتیاو ته به متوجي شي.

د ناستي د پای په شیبو کي ویاند د دي اونۍ د ناستي مشر مېلمه استاد عبدلصبور وطنوال ته د غونډې د ارزولو په موخه بلنه ورکړه. وطنوال دبهیر والو ټولي هڅي ګټوري وبللي اوغونډه یي ښه وارزوله .

غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیدله.

عرفان الله« بیدار»

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org